نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه زغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

د افغانستان اسلامي جمهوریت

# د افغانستان دولت اونړیوال بانک د سیمه ییزې حکومتدارۍ اود کلیود زیربناوود ښه والي له پاره یو نوی تړن لاسلیک کړ

**کابل، ۱۳۸۹کال، د زمري ۱۹ (۲۰۱۰میلادي، د اګست ۱۰)** : دافغانستان داسلامي جمهوریت دمالیې وزارت اونړیوال بانک نن د۴۰ میلونه امریکایي ډالرو په ارزښت دوړیامرستې، چې دنړیوال بانک دبین المللي پرمختیاادارې له خوا برابریږي، د ملي پیوستون پروګرام د دریم پړاود تمویل په منظور یو تړون لیک لاسلیک کړ. د ملي پیوستون پروګرام د ریم پړاو، د دغه پروګرام، چې په هیوادکې له بریالیو پروګرامونو څخه بلل کیږي، د لومړي او دویم پړاو د لاسته راوړنو پربنسټ اولاړ دی.

په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د دې پروګرام له پیل څخه راهیسې، ۱۷ میلونه افغانانو د ټول افغانستان د۳۴ ولایتونو په کلیوالوسیمو کې له ډیرو ښوزیربناوو، لکه اوبو، بریښنا، سرکونو اولارو ته په لاس رسۍ سره ګټه اخیستې ده. تراوسه پورې ۲۲۰۰۰ سیمه ییزې پرمختیا شوراګانې تاکل شوي اوله ۴۱۰۰۰ څخه زیاتې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي . په تقریباً ۱۰۰۰۰نورو پروژو اوس هم کار روان دی، چې په پام کې دي هغه هم په دې نږدې وختونوکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د دې پروګرام له لارې څه د پاسه ۷۲۰ میلونوامریکایي ډالره، د ۲۰۰۳ میلادي کال څخه د۲۰۱۰ میلادي کال تر جون پورې په کلیوکې د پرمختیایي پروژو د تمویل له پاره مستقیماً مصرف شوي دي.

*"د دې پروګرام له پیل څخه زه شخصاً د هغه په ټولو پړاوونو کې دخیل وم اوپه دې پوهیږم چې خلک څه ډول له هغو بدلونوڅخه، چې دې پروګرام دهغوی په ژوند کې رامینځته کړي دي، خوښ دي،"* دا مطلب **د مالیې وزیر ښاغلي عمرزاخیلوال** څرګندکړ، زیاته یې کړه: *"اوس خلکو بریښنا ، اوبو اوښو زیربناوو، لکه سرکونو، پولچکونو اوپلونو ته لاس رسي پیداکړې. ددې لاسته راوړنودوام اوپاییښت او د ملي پیوستون د پروګرام پراختیا اوخپریدنې، چې په رښتیاهم یوملي پروګرام دی، د یوسوکاله او ثبات لرونکي افغانستان له پاره ډیرزیات اهمیت لري."*

د ملي پیوستون د پروګرام د دریم پړاوله لارې د افغانستان په ټولو کلیوالي سیمو کې د ټاکل شویو پرمختیایي شوراګانو د رامینځته کیدو پروسه بشپړیږي. دغه شوراګانې، چې له نرواوښځو څخه تشکیل شوي، کلیوالي اړتیاوو ته په پاملرنه د لازمو زیربناوو درامنځته کولو له پاره د تخصیص ورکړل شویو مالي مرستو څخه د کاراخیستنې لارې چارې اوڅرنګوالی معلوموي او د پرمختیایي شوراګانو له لارې، چې د خلکو له خوا په آزاده او د موکراتیکه بڼه ټاکل کیږي، منابع سوقوي. د ملي پیوستون پروګرام نه یوازې دا چې اساسي خدمتونو او زیربناوو ته د خلکولاس رسي برابروي، بلکې د کلیو په پرمختیاکې ونډه، ګډون اوحساب ورکول هم پیاوړي کوي.

*"د دریم پړاوله لارې دا پروګرام د ټول هیواد کلیوالي سیموته خپریږي او د ملي پیوستون پروګرام په یو واقعاً ملي پروګرام بدلوي،"* دغه مطلب **د کلیو د پراختیا اوبیا رغونې وزیر ښاغلي جارالله منصوري**

ښرګندکړ، زیاته یې کړه: *"ترټولو مهمه داچې د دې پروګرام دریم پړاو او د خلکو اړتیاووته د ځواب ویلو له پاره کلیوالي پرمختیایی شوراګانو ته د وړیا ثابتې مرستې د ورپسې دورې لاړې چارې برابروي. همدارنګه به د کلیواوبانډو اوسیدونکي وهڅوي چې سره یوځای اویوموټی شي اوپه نورو دولتي پروګرامونو کې هم ونډه واخلي."*

د ملي پیوستون پروګرام د دریم پړاو له لارې پر حکومتي ادارو او مرکزونو باندې د ټاکل شویو کلیوالي پرمختیایي شوراګانو د بدلولوپه منظور د دولت له موخو ښخه د ملاتړ له پاره یولړ نوښتي لارې چارې هم په پام کې نیول شوي دي. په لومړي ګام کې دغه پروګرام په پاتې ۱۰۳۲۰ کلیوکې د وړیا پلان شویو مرستود بشپړولو ملاتړ کوي، ترڅو د دې پروګرام ترپای ته رسیدو پورې د افغانستان ټولې کلیوالې سیمې تر پوښښ لاندې راشي. دویم: د کلیو د اوسیدونکو د مهمو پرمختیایي اړتیاوو په پام کې نیولو سره هغو ۱۷۴۰۰ پرمختیایي شوراګانو ته د وړیا ثابتو مرستو دویمه دوره برابروي.او ترټولو مهمه داچې داپروګرام په دریم پړاو کې دټاکل شویو پرمختیایي شوراګانو په حکومتدارۍ، پاېښت اود بنسټیز کیفیت په لوړتیا باندې تمرکز لري اوله نورو ادارو سره په ګډون کې دهغو ځواک اوتوان پیاوړی کوي.

*"د ملي پیوستون له پروګرام ښخه زموږ کتنه اوڅېړنه ښرګندوي، چې دا پروګرام خلکوته دا توان او ځواک ورکوي چې پخپله د خپلې سیمې د پرمختیا په هکله تصمیم ونیسې او مالي منابع هم اداره کړي. دا کار په نتیجه کې د وګړنیزې حکومتدارۍ د ټینګښت او د کلیو د پرمختیا سبب ګرځي، چې د فقر او غربت په له منځه وړلوکې هم مرستندوي واقع کیږي،"* دا مطلب **په افغانستان کې د نړیوال بانک د دفتر سرپرستې اغلي جوزیفن بسینټ** ښرګند کړ.

د ملي پیوستون پروګرام د دریم پړاو ټوله بودجه تقریباً ۱،۵ ملیارده امریکایي ډالر اټکل شوې، چې له دې جملې ښخه ۴۰ میلونه امریکایي ډالر یې نړیوال بانک تمویلوي. په پام کې ده چې نوره اټکل شوې بودجه د نورو تمویلونکو، په ځانګړی توګه د افغانستان د بیارغونې د صندوق له لارې تمویل شې. د افغانستان د بیارغونې صندوق ۷۰۰ میلیونه امریکایي ډالر په راتلونکو دریو کلونوکې د ملي پیوستون د پروګرام به ګډون د پانګې اچونې د پروژو له پاره په پام کې نیولي دي. د امریکا د متحده ایالتونو د بین المللی پرمختیا اداري چې دافغانستان د بیارغونې د صندوق له سترو تمویلونکو ښخه ده، په دې ورستیو وختونو کې د ملي پیوستون له پروګرام سره خپلې مرستې، له ۲۶۵ میلیونه امریکایی ډالرو ښخه ۴۴۰ میلیونه امریکایی ډالروته زیاتې کړې دي.

*د زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو له پاره د لاندې اشخاصو سره اړیکې ونیسئ:*


| | | |
|---|---|---|
| عزیزشمس<br>د مالیې وزارت د رسنیودبرخې مسوول<br>۰۷۹۹۳۲۶۳۸۳<br>mof.media@gmail.com<br>www.mof.gov.af | احمد جمشید احمدي<br>د کلیوپراختیا اوبیارغونې د وزارت د ملي پیوستون د پروګرام د عامه اړیکو رییس.<br>۰۷۹۹۵۷۲۱۴۴<br>a.ahmadjamshed@nspafghanistan.org<br>www.mrrd.gov.af<br>www.nspafghanistan.org | عبدالروف ضیاً<br>په کابل کې د نړیوال بانک د مطبوعاتواوعامه اړیکو مسوول<br>۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰<br>azia@worldbank.org<br>www.worldbank.org.af<br>www.worldbank.org/artf |